# د کاناډا د لومړي وزير بيانيه

د 2009 کال د نومبر 2 مه

د کاناډا لومړي وزير جلالتماب ستيفن هارپر نن دغه بيانيه د 2009 کال په ټاکنو کې د ولسمشر حامد کرزي د بريالیتوب د اعلان په اړه د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کميسيون د پريکړې په اړه صادره کړه:

" کاناډا د ټاکنو د خپلواک کميسيون د دغې سمې پريکړې څخه چې د 2009 کال د ولسمشرۍ د ټاکنو د دويم پړاو د ترسره کيدو څخه يې ډډه وکړه، هرکلی کوي. "

" د افغانستان د وروستيو ټاکنو په ترڅ کې، کاناډا د ټولو خوواو څخه په کلکه غوښتنه کړې وه چې د افغانستان اساسي قانون دې رعايت کړي. د ټاکنو په دويم پړاو کې د ګډون په اړه د ولسمشر حامد کرزي رضايت د ديموکراټيک بهير په لور د دغه ژمنې څرګندونه کوي. موږ ولسمشر حامد کرزي ته د هغه د بريالیتوب مبارکي وايوو، او له هغه څخه تمه لرو چې ژرترژر دې يو ملي حکومت جوړ کړي ترڅو د ټولو افغانانو د ګټې لپاره کار وکړي."

" په داسې حال کې چې د افغانانو ترمشري لاندې د ټاکنو بهير د يو لړ ستونزو سره مل وو، خو بايد په ياد ولرو چې د افغانستان د ټاکنو بهير د طالبانو د رژيم د نسکوريدو وروسته يوه اوږده لاره وهلې ده. په ميليونونو افغانانو د ټاکنو په ترسره کيدو، ټاکنيزو مبارزو او د رايې ورکونې په بهير کې ګډون وکړ."

" زه د افغانستان پر نوي حکومت ټينګار کوم چې بايد زيات تمرکز پر امنيت او حکومتدارۍ وکړي. دغه کار بايد د پياوړو، ديموکراټيکو او ځواب ورکوونکو ملي نهادونو د جوړولو له لارې ترسره شي، چې د اساسي خدمتونو وړاندې کولو او د اداري فساد سره د مبارزې په خاطر د هڅو د پراخولو لپاره ژمن وي."

" کاناډا په افغانستان کې د دې لپاره ده، ترڅو د يو ديموکراټيک ، با ثبات او خودکفا هيواد د جوړلو په خاطر د افغانانو سره مرسته وکړي. کاناډا به په افغانستان کې د ازادۍ، ديموکراسۍ،بشري حقونو او د قانون د ټينګښت د ارزښتونو د پياوړتيا په موخه د خپل نورو همکارنو سره خپلو هڅو ته دوام ورکړي"